# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

## AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد     بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم     از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com     afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
| --- | --- |



د افغانستان د زیارکښانو ټولنیز انجمن

۲۳ مارچ ۲۰۱۳

## د دهقانانو ورځ، هغه ورځ ده

## چې ټول زیارکښان په آرامی او برابری کې ژوند وکړي

د افغانستان اوسنی دولت چې د خانانو، اربابانو، ثروتمندانو، سرمایه دارانو او د تاجرانو دولت دی او دا سرمایه داران ټول لوټ کوي، تالان کوي او بیوزله خلک ځورووي او همدا ډول اربابان او خانان او فیوډالان  هم په کلیو کې دهقانان په بیرحمی لوټي او ظلم ورباندي کوي، د حمل دویمه ورځ د دهقان ورځ او عمومي رخصت اعلان کړی دی.

د دې اوسني دولت خارجي دوستان هم یولس کاله کیږي چې دهقانان او زیارکښان وژني او په داسې قساوت او بیرحمی او ځناورتوب یې وژني چې د هر انسان زړه دردوي. دا ظالمه او ستمګره خارجیان چې د اوسني دولت ملګري، دوستان او انډیوالان دي، د دهقانانو اصلي دښمنان ګڼل کیږي، نو په داسې یو وضعیت کې د دهقانانو لپاره د دې داسې یو دولت لخوا د ورځې اعلان، که ټوکه او ټکاله نه وي نو دردونکې خبره ده.



کله چي دهقانان وهل کيږي، کله چي د دهقانانو ځمکې غصب کيږي، کله چي د دهقانانو پر خويندو او لورګانو جنسي تيری کيږي، کله چي دهقانان د ماينونو قرباني کيږي، کله چي دهقانان لا بيوزله کيږي، کله چي دهقانان ولږه کاږي،کله چي د دهقانانو اولادونه له کوچنی ناروغی مري، کله چي د دهقانانو پر کور خارجيان بمونه اچوي، کله چي وسله واله بيرحمه خارجيان، دهقانان په کروندو کې وژني، کله چي د هغوی د لورګانو او زامنو د وادونو مراسم په غم او وير بدليږي، کله چي د دهقانانو بسته کلي نابوديږي، کله چي دهقانان په بيوزلو کارګرانو بدليږي، کله چي دهقانان، د لوټمارو، غارتګرو زمينداړانو او شتمن لخوا حتی انسان نه ګڼل کيږي، کله چي دا بيوزله دهقانان د پسانو په شان د هغوی ظالمه خارجيانو لخوا مري چي د اوسني دولت مسؤولين ورته مډالونه ورکوي، کله چي دا فقيره دهقانان د جنايتکاره طالبانو لخوا ځورول کيږي، لوټيږي او وژل کيږي، کله چي سيمه ايزه پوليس د هغوی حاصلات لوټي او درمندونه ورته سيزي، په داسي يو وضعيت کي د دهقانانو لپاره د ورځ اعلانول، دردونکی ټوکه ګڼل کيږي.
حمل دويمه ۱۳۹۲

د دهقانانو رښتني ورځ هغه ورځ ده چي موږ ملي خپلواکي ولرو، خارجيان نور ونشي کړای پر دهقانانو بمونه واچوي، لوټماران نور ونشي کړای دهقانان او نور بيوزله انسانان وځوروي او تالان کړي، د هقانان نه يوازې چي بايد با شرفه او با وقاره انسانان وګڼل شي، بلکي دا واک او اختيار پيدا کړي چي د خپل ژوند په اړه په خپله فيصله وکړي.
دا ورځ هغه وخت راتلونکی ده چي دهقانان د نورو زيارکښانو او په تيره بيا د کارګرانو سره د اتفاق او اتحاد لاس ورکړي او له ستمونو او کړاونو ځخه د خلاصون لپاره په فداکاری سره کوښښ او فعاليت وکړي.
تر هغه چي پر دهقانانو بمونه اچول کيږي، کلي او بانډې يې ورانيږي او په بيرحمی وژل کيږي، تر هغه چي سرمايه داران او خانان او اربابان د دهقانانو ژوند تالانوي، هيڅ ورځ د د هقانانو ورځ کيدای نشي. د دهقانانو ورځ هغه ورځ پيليږي چي زموږ په وطن کي نور د خارجيانو او د هغه د کورنيو شتمنو دوستانو جنايت نه وي او دا يوازې کارګران، دهقانان او نور زيارکښه انسانان وي چي د خپل ژوند پريکړه په خپله وکړي.